سمیع الدین افغانی ۲۰۱۸/۱۲/۲۱

# د وطن اتلانوته

ژوند کې کله ښې شيبې، ساړه ايام شته
لکه ورځ چې مازيګر لري ماښام شته
کار، زحمت او ارادې چې سره يو وي
بيا فرصت د ښو شيبو د ښه انجام شته

د وطن مـور ته به ويـاړ او افتخار شي
چې پـه کړو يې ولسونـو ته پيغام شته
د اغيار دا تريـو تندي د تيـر وختو دی
په مالت کې يې بدمـرغـه او بـدنـام شته

کوم غليم چې مـو د ملک بربادی غواړي
دې بې رحمو خپل تاريخ ته کله پام شته
پـه فريب، ريـا دوکـه کاذب شهرت کې
د پـردو مخو نوکـر دوئ کې غلام شته



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

"افغاني" خپل اتـلانـو بانـدې ويــاړو

چې يې فکـر د وطـن ولس او قـام شته

د وطن اتلانوته

Afghani_sameh_de_watan_atalaano_ta.pdf